**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د پور په اخستلو کې ببړه کول او د پور یوه برخه کمول**

(ژباړه)

خالد ابو الولید ته

**پوښتنه:**

السلام علیکم ورحمته الله وبرکاته!

خدای تعالی دې وساته، زموږ شېخ صاحب!

زما پوښتنه دا ده، چې زه اوس په یوه شخصي اداره کې کار کوم او دوی زما له اجورې څخه د بیمې او تقاعد په نامه یوه اندازه پیسې ګرځوي. غواړم له دغو پیسو څخه یو برخه ترلاسه کړم، چې زما له تنخوا څخه کمې شوې دي، خو یاده اداره مې اړباسي چې له دغو پیسو یعنې خپل حق څخه مې یوازې یوه فیصدي واخلم. ایا دا په شریعت کې جواز لري؟

الله سبحانه تعالی دې پر تاسو ورحمېږي او اوږد ژوند دې په نصیب شه!

**ځواب:**

وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

زه ستا له پوښتنې داسې پوه شوم، چې ته غواړې د خپل تقاعد یوه برخه په قرارداد کې له ټاکل شوې مودې وړاندې تر لاسه کړې.

زه وینم چې دا موضوع د پور په اخستلو کې د ببړې له مسلې سره ورته والی لري؛ یعنې که یو څوک د یو بل چا پوروړی وي او د پور ادا کولو نېټه بیا دوه کاله وروسته ټاکل شوې وي. د بېلګې په ډول، که چېرې د پور ورکړه د دوو کلونو په ترڅ کې د قسط په ډول وي او یا پور ټوله ورکړه د دوو کلونو تر بشپړېدو وروسته وي؛ نو په دې موده کې پور ورکوونکی پور اخیستوونکي ته ووایي: زما پور اوس راته راکړه، زه به تاته د پور یوه معلومه اندازه کمه کړم. دا ستا له حالت سره ورته والی لري؛ ستا یوه اندازه پیسې له هغه ادارې سره دي چې ته د هغې لپاره کار کوې

او یاده اداره به یې هغه وخت درکړي چې ته ٦٠ کلن شې. د بېلګې په ډول ته اوس ۴۰ کلن یې او  شل کاله مخکې د خپلو پیسو یوه برخه غواړې.

د پور په اخستلو کې د ببړې او یوه اندازه پور کمولو د موضوع په اړه اختلاف شته دی. د بېلګې په ډول پور ورکوونکی د دې پر ځای چې یو کال وروسته خپل (۱۰۰۰) روپۍ پور ترلاسه کړي اوس (۹۰۰) روپۍ ترلاسه کوي. په دې تړاو موږ د ۱۴۳۴ هـ ق د صفرې میاشتې پر ۱۴مه چې د ۲۰۱۲م کال د ډیسمبر له ۲۷مي سره سمون خوري، یوه پوښتنه ځواب کړې وه، خو زه په هغې موضوع پورې اړوند ځینې مسایل یو ځل بیا دلته تکراروم:

«ستا د پوښتنې په تړاو، فقهاوو یاده موضوع په "ضعْ وتعجَّل" (پور کم کړه او د هغه په بیرته ورکولو کې بیړه وکړه) په څېرکې کې راوستې ده. یعنې د ځنډول شوي پور یوه برخه د ټول پور یا یوې برخې د ژر بیرته اداینې په بدل کې کمېږي (د هغه تړون تر نېټې مخکې چې پور باید تسلیم شي)، د دې موضوع په تړاو د نظرونو اختلاف شته:

- ځینې علما دغه ډول کار ته جواز نه ورکوي او لاندې نصوص د ثبوت په ډول راوړي:

۱. البیهقي په خپل السنن الکبری کې له المقداد ابن الاسود  څخه روایت کوي چې وایي: ما د پور په بڼه سل دیناره یو سړي ته ورکړل او زه وروسته له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د دعوت د یو هیئت په تشکیل کې یو ځای شوم. ما پور اخیستونکي ته وویل: ۹۰ دیناره تر ټاکلې نېټې مخکې راکړه او زه به پاتې لس دیناره درپرېږدم. ده وویل: سمه ده. هغه سړي یاده موضوع له رسول الله صلی علیه وسلم سره شریکه کړه، هغه صلی الله علیه وسلم وویل:

**«أَكَلْتَ رِباً يَا مِقْدَادُ، وَأَطْعَمْتَهُ»**

***ژباړه:*** *اې مقداده! تا هم خپله او هم پر نورو سود وخوړ.*

(یادونه: امام ابن القیم په خپل إغاثة اللهفان کې وایي: د البیهقي د دغه حدیث سند کمزوری دی)

۲. دوی وایي د جاهلیت په دور کې دا هم ربا وه، چې د ځنډېدلي پور اندازه په مشروط ډول زیاتېدله او د مودې د زیاتېدو پر ځای به د پور کچه لوړېدله. الله سبحانه وتعالی دغه کار حرام او ناروا وګرځاوه او ویې فرمایل:

﴿وَإِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَالِكُمْ﴾

[البقرة: ۲۷۹]

***ژباړه:** او که چېرې تاسو توبه وباسئ، نو ستاسو رأس المال (اصل مال) ستاسو لپاره دی.*

دوی زیاتوي چې د پور د یوې برخې کمول پرته له دې هم حرام دي، چې پور له وخت څخه مخکې بیرته ورکړل شي، ځکه چې د مودې د مخکې کولو له امله زیاتوالی یا کموالی پکې راغلی دی.

د حنیفي، مالکي، شافعي او حنبلي جمهور علماو وایې، چې "ضعْ وتعجَّل" (پور کم کړه او د هغه په ورکړې کې بیړه وکړه) دغه کار حرام دی؛ خو زید ابن ثابت، ابن عمر او یو شمېر تابعینو یاد کار مکروه ګڼلی دی.

- ځینې علما دغه ډول کار ته جواز ورکوي او لاندې نصوص د ثبوت په ډول راوړي:

۱. ابن عباس رضی الله عنه وایي: کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د بنو نضیر د تبعید امر وکړ دوی وویل: اې د الله رسوله صلی الله علیه وسلم! تا زموږ د شړلو امر وکړ او زموږ پر خلکو پورونه پاتې دي چې نه یې دي ادا کړي، هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "ضَعُوا وَتَعَجَّلُوا" (پور کم کړئ او د هغه په ورکړه کې بیړه وکړئ). دغه حدیث الحکم د خپل مستدرک په دوو صحیحینو کې روایت کړی او دی وایې دا حدیث د سند له مخې صحیح دی، خو خپله یې نه دی اخراج کړی.

یادونه: الذهبي په خپل تخلیص کې وایې چې «الزنجي» ضعیف دی او عبدالعزیز د باور وړ نه دی. ابن القیم د اهل ذمه د اصولو په تړاو وایي: د هغه حدیث سند حسن دی، یوازې په دې چې یو مسلمان بن خالد الزنجي یې په راویانو کې شته دی او د ده حدیث د حسن تر کچې کښته نه دي.

۲. د عبدالله ابن عباس رضی الله عنه وینا ده: «ځنډول زما لپاره سود خوري، زه به یې تاته وخت در زیات کړم او زما لپاره په پور را کولو کې بیړه مه کوه، خو زه ستا پور راکموم.»

د امام احمد د روایت له مخې ابن عباس، النخعي، الحسن او ابن سیرین د یاد کار جواز ورکړی دی. شېخ الاسلام ابن تیمیه او د ده شاګرد ابن القیم د شوافیعو نظر غوره بللی دی. له حنیفي فقهاوو څخه ابن عابدین په «الدر المختار» کې په خپله حاشیه کې د دې کار جواز ورکړی دی.

موږ نه غواړو چې په یاده موضوع کې کوم نظر تبني کړو، نو پوښتونکی باید د فقهاوو له نظریاتو څخه ځان ډاډه کړي...» پای.

لکه څنکه چې تاسې وينئ موږ نه غواړو په یاده موضوع کې تبني وکړو، نو تاسې کولی شئ چې د بشپړ ډاډ لپاره د هغه مجتهد نظر ومنئ چې ته يې د نظر د صحت په اړه ډاډه يې. پورته دوه نظرونه واضح دي. لومړی نظر دا دی چې په بيړه د پور ترلاسه کولو په پلمه د پور د يوې برخې کمول حرام دي، ځکه په سود کې راځي. دويم نظر دا دی چې په بيړه د خپل پور ترلاسه کول او د هغه د يوې برخې کمول روا دي. لکه څنګه چې مو مخکې یادونه وکړه موږ له یادو دوو نظرونو څخه يو هم نه تبني کوو.

په پايله کې زه له الله سبحانه وتعالی څخه ستا لپاره د مرستې غوښتنه کوم، ترڅو هغه څه وټاکئ چې غوره دي.

**ستاسې ورور**

**عطا ابن خليل ابو الرشته**

**۱۴۴۰ هـ.ق د ذوالقعدې ۸ مه**

**۲۰۱۹ م د سپټمبر ۱۱ مه**